نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۷/۰۶/۰۵

# د کابل پروسې غونډه؛ برید او لاریون

د نړیوالو په مرسته، د امریکا او افغان حکومت په ګډو هڅو، دوی وتوانیدل چې د ۲۴ هیوادونو استازي ورسره ومني چې د کابل پروسې غونډه کې د جون ۶مه په کابل کې ګډون وکړي.

دا ډول به په یاده غونډه کې د ناتو، ملګرو ملتونو او اروپایي ټولنې ملکي استازي هم ګډون وکړي.

په یاده غونډه کې به افغان حکومت له یادو هیوادونو او نړیوالو ادارو وغواړي چې د ترهګرۍ (د دوی په اصطلاح) په ضد له افغان حکومت سره مرسته وکړي.

افغان حکومت به یادو هیوادونو او نړیوالو ادارو ته وایي چې په افغانستان کې تر ۲۰ زیاتې ترهګرې وسلوالې ډلې شتون لري، او ځيل يې يواځې د افغان حکومت له وسه نه ده، ډېر تمرکز به بیا هم د داعش ډلې په فعالیتونو کوي، او داعش ډلې په اړه به افغان حکومت نړیوالو ته فریزنټیشن ورکوي، تر څو د نړیوالو لخوا په هیواد کې د څو نورو کلونو د جګړې د دوام لپاره مرسته او ضمانت تر لاسه کړي.

له همدې امله چې د کابل پروسې غونډې ته بنه کمپاین شوی وي، د مئ ۳۱مه ۲۰۱۷، د کابل په تر ټولو مهمه او ډیپلوماټیکه سیمه (زنبق څلور لارې ته نږدې) کې مجهول برید وشو، افغان حکومت وايي چې ټانکر بم وو، خو افغان څیړونکي وایي چې له هواء څخه ویشتل شوی راکټ وو.

د برید په ترڅ کې تر ۱۰۰ زیات بې ګناه افغانان مو شهیدان او تر ۴۵۰ زیات بې ګناه افغان وګړي مو ژوبل شول، کابل کې د وینو لښتیان روان وو، د هر افغان په کور کې غم وو.

طالبانو ډېر ژر په کابل کې د شوي برید غندنه وکړه، د حکومت لخوا برید حقاني شبکې او پاکستان استخباراتو ګډ پلان وګڼل شو، په غبرګون کې يې د حکومت مشر غني لخوا د ۱۱ تنو حکومت سره بندي طالبانو (۴ تنه د حقاني شبکې او ۷ تنه پخواني لوړ پوړي طالبان) د اعدام حکم توشیح شو.

طالبانو د حکومت د یاد غبرګون په اړه په تونده لهجه اعلامیه خپره کړي، ګواښ يې وکړ، که ددوی بندیان اعدام شي، غچ به يې اخلي، او له طالبانو سره چې د ځینو بهرنیو هیوادونو بندي اتباع دی، که هغوی ته زیان ورسیږي، ددغسې عمل متحرک کوونکی به افغان حکومت او که بهرني هیوادونو د خپلو اتباعو په اړه غفلت وکړي، د طالب زندانیانو د اعدام مخنیوي کې هلې ځلې ونه کړي، بیا به د دوی اتباعو ته د ضرر په صورت کې یاد هیوادونه مسؤل وي.

د کابل پروسې غونډې اړوندځینې هیوادونه بیا غواړي چې د یادې غونډې اړوند د افغان حکومت او امریکا کمپاین ناکام کړي، او کابل پروسې غونډه پیکه کړي، له همدې امله د برید څخه دوه ورځې وروسته (۲ جون



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

۲۰۱۷) د ځینو حکومت مخالف او په حکومت کې ګډو سیاستوالو لخوا لاریون په کار واچول شو، لاریون کوونکو غوښتل چې ارګ ته ځانونه ورسوي، امنیتي ځواکونو یې مخه ونیوله، لاریون په تاوتریخوالي بدل شو، پایله کې ۷ تنه لاریون کوونکي، د مشرانو جرګې د لومړي مرستیال ایزیدیار د زوی محمد سلیم ایزدیار په ګډون ووژل شول او نږدې لس تنه لاریون کوونکي ژوبل شول.

ویل کیږي چې ځینو لاریون کوونکو له ځان سره وړې وسلې (تومانچې) درلودلې، دا ډول د لاریون کوونکو لخوا په امنیتي ځواکونو د ډبرو وارونه شوې، او امنیتي ځواکونو یې ارګ ته د تګ د مخنیوي لپاره په لاریون کوونکو ډزې کړې، د کابل ګارنیزون مشر ګل نبي احمدزي ویلي چې د لاریونکونو لخوا په امنیتي ځواکونو د ډزو له امله ځیني امنیتي کسان ژوبل شوې دي، ګل نبي احمدزي له خلکو غوښتې چې په اوسنیو حالاتو کې امنیتي ستونزو ته په کتلو، خلک دي له لاریون کولو ځخه ډډه وکړي.

د کابل ګارنیزون مشر ګل نبي احمدزي ویلي چې په لاریون کې د ځانمرګې برید او حملې احمتال شته، له همدې امله باید په اوسنیو شرایطو کې خلک لاریون ونه کړي.

یوکال وړاندي چې د روښنايي غورځنګ له لوري په کابل ښار کې لاریون وشو، دوی غوښتل چې د ترکمنستان ۵۰۰ کیلو ولټه برېښنا باید کابل ته د بامیانو ولایت د لارې تیره شي، د لاریون کولو ځخه یوه ورځ مخکې افغان امنیتي ادارو د روښنايي غورځنګ مشرانو ته خبر ورکړی وو، چې امنیتي تهدید شته، او کیدای شي، چې ځانمرګی برید وشي.

د ۱۳۹۵ ل. کال د زمري میاشتي په ۲مه نیټه د روښنايي غورځنګ لخوا جوړ شوې لاریون د کابل ښار دهمزنګ څلورلارې کې چاودني وشوې، چې د چاودنو له امله ۶۶ تنه مړه او ۳۰۵ تنه ژوبل شول.

په کابل کې د لاریون کوونکو ( ۲ جون ۲۰۱۷) غوښتنه داوه چې د حکومت دواړه مشران ( ډاکټر غني او ډاکټر) عبدالله ، د امنیت شورا مشر ښاغلی حنیف اتمر او د ملي امنیت مشر ښاغلی معصوم ستانکزی دي له دندو استعفاوي وکړي، دا ډول یې د لنډمهاله حکومت غوښتنه کوله.

دوی مرګ په اشرف غني، مرګ په حنیف اتمر، مرګ په ګلبدین حکمتیار، مرګ په حقاني شبکې، مرګ په امریکا او مرګ په پاکستان شعارونه ورکول، د حکومت دمشر او حنیف اتمر انځورونو ته یې اور واچاوو.

د حکومت مشر ډاکټر اشرف غني او په کابل کې د ملګرو ملتونوځانګړي استازي تادامیچي یاماماتو له لاریون کوونکو وغوښتل چې ارام او خاموش واوسي، له زغم ځخه کار واخلي، او ددوی هغه غوښتني چې له قانون سره سمي وي، حکومت به یې ومني.

دادی د جون په دریېمه بیا هم لاریون د کابل له شمال (خیرخانې) سیمې څخه پیل شوې، لاریون کوونکي هوډ لري چې ځانونه د زنبق څلورلارې ته ورسوي، امنیتي ځواکونه یې مخه نیسي، د لاریون په سېمه کې د ډزو اوازونه بیا هم اوریدل شوي.

لاریون کوونکي د ګډ حکومت د مشرانو او کابیني د استعفا غوښتنه کوي، دا ډول د لنډ مهاله اداري په جوړیدو ټینګاره کوي.

په بلخ ولایت او تخار کې هم د حکومت ضد لاریونونه د زنبق څلور لارې د برید په بهانه شوې وي، او له ګډ حکومت څخه د برید مسؤلینو ته د جزا او حکومت د مشرانو استعفاوي غواړي.

ویل کیږي چې د یادو لاریونو تر شاه د د ډاکټر غني د پخواني ستر سلاکار احمدضیاء مسعود او د امنیتي ادارو چارو کې د دولت وزیر امرالله صالح لاس دی، دا ډول کیدای شي ځیني نور هغه کسان چې په دولت کې د زیاتي ونډې غوښتنه کوي، د لاریون تر شا یې لاس وي.
د امریکا او ناټو ځواکونو ، د امریکا سفارت په شتون کې، نه بریښي چې د لاریون او یا هم ناراضه سیاستوالو لخوا د سپیني کودتاه په ترڅ کې دي نظام ته سقوط ورکول شي، امریکا به د همدې کمزورۍ او افغان ولس د خوشي خلاف نظام څخه تر هغه وخت پورې ساتنه کوي، تر څو چې ددوی ګټې په کې خوندي وي.
احمتال شته چې د حراثت او ثبات شورا ځیني غړ او د شمالي ټلوالي ځیني مشران به په کلکه له د نیم حکومت له مشر ډاکټر عبدالله وغواړي چې له خپلې دندې استعفی ورکړي، تر څو د لنډ مهاله حکومت لپاره لاره پرانستل شي.
که لاریونونه دوام وکړي، او ډاکټر عبدالله له ګډ حکومت څخه مستعفي شي، نه یوازې د کابل پروسي غونډه به له ناکامي سره مخ شي، بلکې لا زیات تاوتریخوالی او ګډوډي به په هیواد کې زور واخلي.
په اوسنیو حالاتو کې، سمه ده چې موږ د ګډ حکومت او د حکومت له جوړښت، د بهرنیو پوځیانو له شتون سره مخالف یو، خو که ګډوډی زور اخلي، او واک خلا رامنځته کیږي، د ۷۰مو کلونو، د ډاکټرنجیب الله د حکومت د سقوط تکرار یې ګنم، چې موږ یې یوې بلې ۲۰ کلني جګړې ته ورټیل وهلو، که بیا هم په زور ځیني ډلې او سیاستوال د واک ترلاسه کولو هڅه کوي، مسایلو او پیښنو ته قومي او سمتي رنګ ورکوي، دابه یو بل لوی ناورین وي.
افغان حکومت ته په کار ده، چې د افغان ولس غوښتنو ته احترام ولري، د پردیو هیوادو د ګټو لپاره په هیواد کې د جګړې د دوام باعث ونه ګرځي، واک د لنډمهاله حکومت په جوړښت کې د افغان ولس رښتوني استازو ته د یوې منظمي او اصولي پروسې په ترڅ کې وسپاري، او لنډ مهاله حکومت نړیوالو ته تضمین ورکړي، چې په ټاکل شوې موده کې به د منتخب افغان شموله نظام لپاره کار کوي، او هغوی ته به واک په خپل وخت سره په سولییز ډول سپاري.

نظرمحمد مطمئن
لیکوال او شنانډ